# د نړۍ ستر مذاهب

دا مختصره رساله د هغه کتاب له منځپانګې راخیستل شوې ده چې کلونه

مخکې (د نړۍ ستر مذاهب) په نامه چاپ شوی او خپور شوی وو

Ketabton.com

امین رنځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی چاپ : ۱۳۸۲ هـ ش**

**نشروونکی: ترجمان خپرندویه ټولنه**

**کمپوز و ترتیب: جانان احمدزی**

---

**پته: نیو کابل بک سټور بوړد بازار پېښور ، میرویس کتاب پلورنځی اړک بازار کندهار**

**اسلامي کتاب پلورنځی جلال اباد ، اریانا کتاب پلورنځی خوست صرافانو کوڅه**

# فهرست



| | |
|---|---|
| د سرخبری / ۳ | تاو مذهب / ۳۰ |
| هندو مذهب / ٦ | شنتو مذهب / ۳۳ |
| بودایي مذهب / ۱۰ | یهودیت / ۳٦ |
| زردشتي مذهب / ۱٦ | عیسویت / ٤۱ |
| کنفیوشي مذهب / ۲٤ | مانویت / ٤٥ |



نوټ: دا متن د لیکوال په اجازه له اصلي متن نه د کاپي په توګه بیا ځلی لیکل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبری

یو نظر خو دادی چی له کله نه په نړۍ کی انسان دی شاید له همغی ورځی مذهب هم دی لېکن د مذاهبو او ادیانو تاریخ راته وایي چی عقاید او مذاهب د انسان له پیدایښته ډېر وروسته منځته راغلل ، کله چی انسان په خپل ځان او شاوخوا کی دومره غټو غټو تبدیلیانو ته ګوري نو مجبورېږي چی خامخا یې په اړه سوچ فکر وکړي او کله چی فکر کوي نو ډیری غټی غټی باریکی مخی ته ورته راځي.

انسان فکر وکړ چی دومره لویه نړۍ او په دی نړۍ کی انسانان ، رنګارنګ حیوانات ، اوبه هوا ، اور ، ونی بوټي ، کاڼي غرونه ، بارانونه بحرونه هواګانی ، رعدوبرق او داسی نور زرګونه مسایل دا ټول څنګه منځته راغلل او څنګه کنټرولیږي نو دا خبره یې تری نچوړ کړه چی بهرحال پاس یو څوک شته چی دا نظم یې راوستی یو داسی څوک چی په ټولو له پاسه دی. او همدا د مذهب ابتدا وه.

له دی وروسته خبره نوره مخکی لاړه او نوری خبری راوتو کېدی هر سوچ فکر والا کس نوی نوی خبری راوویستلی چی سمی او غلطی دواړه پکی وی ، نو همدا وجه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دنیا کې رنګارنګ مذهبونه او دینونه پیدا شول دومره چې اوس یې مونږ ته شمېرل هم مشکل دي. ځینې خو داسې دینونه وو چې هغوئ راغلل او په پراخه سیمو تر زرګونه کاله وخت واک وروسته بیرته له منځه لاړل همداسې نور دینونه راوټوکېدل او داسلسله روانه وه تر دې چې نن ورځ مونږ هم یو شمیر دینونه وینو او پیژنو چې زمونږ په عصر کې واک چلوي او کېداې شي چې مودې مودې او پیړۍ پیړۍ وروسته دا هم له منځه لاړ شي او نوي نظریات و عقاید یې ځاې ونیسي. خو له ټولو بهتره خبره داده چې کله هم څوک په پاک زړه سره د حق او ریښتینولۍ د لټون کوشش کوي او په اړه یې سوچ کوي نو هغه ته د ریښتیاوو دروازې خلاصیږي او له کوم اړخ نه یې خامخا مدد هم کیږي. بهرحال ناګزیر د مذاهبو تاریخ بیانول هم وي خو مونږ ته ترهرڅه د خپل سپیڅلي دین اسلام ارشادات او حوالې اعتبار لري هر مسلمان باید مطالعې ته د اسلام له زاویې وګوري او په اړه یې قضاوت وکړي.

نو خبرې اوږدول نه غواړو او راځو دلته په دې کوچنۍ رساله کې د نړۍ د هغو مذاهبو لنډه تذکره راخلو چې له ډېرې زمانې نه وو او د پیروانانو تعداد او تاریخي قدامت له امله د نړۍ غټ مذاهب ویل کیږي، د ریښتینولۍ او بطلان په اړه یې دلته بحث نه کوو ، هر پښتون باید د اسلام دین له تاریخ او فرموداتو باخبر وي نو له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته یوازې د تعارف او پیژندګلوۍ په پار د ( هندوېزم ، بودایزم ، کنفیوشي ، ټاوي ، شنتو ، زرتشتي ، یهودي ، مسیحي او مانوي دینونو) په اړه لنډ معلومات وړاندې کول غواړو. همدا شان لازمه بولم چې له ښاغلي کفیل نیازي او اکمل توخي نه مننه وکړم چې زما له تفصیلي کتاب (د نړۍ سترمذاهب) له منځه یې د یوې وړې رسالې په اندازه لنډې خبرې راواخیستې او د بیا ځلي چاپ لپاره یې اماده کړې ، د نکاتو د راخیستلو انتخاب په خپله د یادو دواړو ورونو وو زه پکې زیاتوالي او کموالي نه غواړم ځکه چې د هرچا خوښه یو بیل ارزښت لري ، په کتاب کې د اختصار او ځینې ملحوظاتو په بنا د نورو نظریاتو او عقایدو په اړه یادونه نشته یوازې د څو مشهورو مذاهبو په اړه خبره شوې ده. هغه ورونه چې د نړۍ د نورو ادیانو ، مذاهبو او عقایدو په اړه ابتدایي معلومات ترلاسه کول غواړي په دې کوچنۍ رساله به یې تنده یو څه ماته شي خو که مو هغه څه نه وو ترلاسه کړي چې تلاش یې کوئ نو د رسالې د اصلي منبع (کتاب) ترلاسه کول به ممکن مرسته درسره وکړي شي.

امین رنځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هندو مذهب

څه لپاسه درې زره کاله یې وشول کله چې آریا پنجاب ته ورسېدل نو هغوئ ته ویدونه په یادو زده وو ، په دغه ویدونو کې د څلورو دیوتاګانو اندرا ، ویرونا ، سوما ، آګني او یوې دیوي آشا ذکر وو ، لیکن هندوستان ته له راغلیو آریایانو سره هیڅ بت نه وو.

په هندوستان کې له اول سره یو قوم آباد وو چې تور رنګ او کوچنی قد یې وو ، آریایانو خو دغه دراوړ قوم په جنګونو جنګونو د دکن په لوري وشړل خو د هغوئ د دیوتاګانو لمانځنه یې شروع کړه ، آریایانو د دراوړانو له مذهب نه ډېر څه واخیستل ، خو اوس یې دلته دا چاڼ کول او جدا جدا کول مشکل دي چې کوم پکی د آریایانو خپل او کوم د دراوړانو دي.

هندوستان ته د راغلیو آریایانو ترمنځ تر ټولو لومړی ددې فکر پیدا شو چې څنګه د خپل ښکلي نسل ساتنه وکړی شي . ددې لپاره هغوئ څلور ذاتونه رامنځته کړل ، برهمن ، چهتري ، ویش او شودر ، او دایې پخه مذهبي خبره جوړه کړه. برهمن چې عزتمنه طبقه بلل کېده کار یې هم لیکل لوستل ، لمانځنی او مذهبي رسومات ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول وو ، چهتري طبقې ته جنګ جګړې او د برهمن قوم حفاظت وسپارل شو، د ویش قوم کرکیله سوداګري او تجارت شو، او شودر ته د ټولو خدمت کول ورپه غاړه شول. ددې ټولو کار ډېر وو او برهمن به هیڅ هم نه کول ، برهمنان لګیا شول لیکل یې شروع کړل ، ځلور واړه ویدونه یې چې تر دې دمه سینه په سینه انتقالول اوس یې راجمع کړل او ولیکل او رګ وید ، یجر وید، ساما وید ، اتهر وید یې ونومول. بیا یې آرنیکا ولیکه اوپې نشد یې ولیکه څو سمرتیاوې یې ولیکلې او دغسې رامایین ، مهابهارت ، بهګوت ګیتا ، پران او تانتر وغیره ... هندو مذهب ته خپله هندوان هندودهرم وایي او مذهبي کتابونو ته دهرم شاستر .

هندو دهرم چا او یا کومو کسانو جوړ کړ په دې څوک نه دي خبر کومې کومې خبرې داسې دي چې په په منلو یا نه منلو یې سړی هندو کېږي دا هم څوک نشي ویيلی.

کله چې بودایانو هندو راجاګان له خپل دربار نه ووېستل او د هندوانو په ژوند کې لږ بده ورځ راغله نو برهمنو ته د خپل بایللي عزت فکر پیدا شو . په دوئ کې شنکر آچاریا پیدا شو او هغه هندو مذهب بیرته له سره وړغاوو، له ویدونو او اوپې‌نشد نه یې هغه خبرې راواخیستې کومې چې ددوئ په زړه برابرې وې. هغه خپله د شو پیروان وو خو له هندوشاستر نه یې د یو داسې ذات په ویستلو کار وکړ کوم چې یوازې وو او ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاقتونه ورته حاصل وو. بیا یې ایشور د هغه ماتحت خدای ونوماوو خو له نورو دیویانو او دیوتاګانو یې انکار هم ونه کړ.بلکې دا یې ثابته کړه چې دا ټول له یوبله جدا نه دي له یو نه دي او په یو کې دي هیڅ فرق او تبدیلي نشته پکې.

له هغه وروسته رام نج او تلسي داسې پیدا شول ، رام نج په دولسمه عیسوي پیړۍ کې پیدا شو شنکر اچاریا (شو) منلو خو رام نج بیا (وشنو). خو رام نج وشنو ته یوازې خدای نه وایه بلکې اصلي خدای یې باله ، یو پاک ذات یې وټاکه او ورسره یې د دیوتاګانو او دیویانو قدرت هم منلو.

په اوولسمه پیړۍ کې تلسي داس د دیوتا او دیویانو په قوت ډیر تمرکز کاوو ویدونه ، شاستر او آپې نشد ټول یې پریښودل او دیوتاګانو د لویو جنګونو کیسې او افسانې چې په عام خلکو کې مشهورې وې راواخیستې ، د هغه ټول مذهب د رام په لمانځنه او د رام او سیتا له مینې جوړ دئ.

د هندوانو په مذهب کې دا خاص خبره دئ چې د ویدونو له زمانې نه تر اوسه پورې هرچا چې څه زیاتونه پکې کړي دئ هغه یې بیا پریښې نه دئ او له کوم پخواني شي نه یې انکار هم نه دی کړی ، او نوي شیان یې په زړو کې په څه نه څه شکل کې داخل کړي دي. د ویدونو پخواني پینځه دیوتاګان هم موجود دي او هغه پینځه یې چې راتول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي يو يې ترې جوړ کړی هغه هم موجود دی. شو هم شته او وشنو هم ، او د هغوئ ټول اوتار هم شته د هغوئ میرمنی هم شته ، رام هم شته او کرشن هم شته ، او له دی ټولو وروسته د آریه طبقه هم شته کوم چی ماده روح او شکتي (طاقت) جمع کوي په هندویزم کی د توحید دعوه کوي او د بتانو له لمانځلو انکار کوي.

د توحید دا خبره په هندوانو کی د مسلمانانو له ګډېدلو او مشاهدی وروسته پیدا شوه خو له دی نه هیڅ فایده وړته ونه رسېدله خو بلعکس هغه نور شیان چی دوئ اخیستي او اخلي يې له هغو نه فایده وړته رسیږي لګیا ده ، مثلاً د کونډی واده او د مور و پلار په جایداد کی د لور او میرمنی حصه.

حقیقت خو دادی چی هندو مذهب نه په وید کی شته او نه په سمرتیاوو کی او نه له هغی نه په زړو آثارو کی ، دا مذهب ټول د هندوانو له رسمونو رواجونو او د برهمن قوم له خودساخته قوانینو نه سرچینه اخلي خو په قدامت کی يې هیڅ شک نشته او له بودایزم نه ډیر مخکی هم موجود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بودايي مذهب

د نړۍ له تاریخه معلومېږي چې له میلاده شپږ پېړۍ وړاندې د نړۍ په اکثره علاقو کې څو مذهبي خوځښتونه راپورته شول چې د وخت د رایجو مذاهبو د پیچلتیاوو او بدیو په خلاف ظاهر شوي وو او په هغه وخت کې خلکو هم ددغه تازه حرکاتو نسبتاً پرجوش ملاتړ کړی وو دغسې یو مذهب بودایزم یا بودیزم دی چې مشهور فلسفي مشر ګوتم بدهٔ ته منسوب دی بودایزم یو صوفیانه غوندې مذهب دی او نن ورځ د نړۍ له مهمو مذاهبو یو بلل کیږي.

۲۵۱۹ کاله مخکې (ګوتم بدهٔ) د نیپال په سرحد لومبین کې پیدا شو، دا ښار هغه وخت د شاکیه نومې قبیلې په پایتخت کپل دستو کې حسابېده ګوتم بدهٔ یا بودا د خاندان په لحاظ له چهتر طبقې سره تړلی وو او خپله پلار یې یو وړوکی راجا وو، د بودا اصلي نوم سدهارت وو ، د هغه د ماشومتوب پالنه په شاهي انداز کې شوې وه هغه ته د سپاهي ټول فنون زده کړی شوي او د سیل و تفریح ټولې مشغلې موجودې وې خو د هغه په طبیعت کې له لومړي سره نرمي او خواخوږي ګډه شوې وه ، په ډیر لږ وخت کې سدهارت ډیر علم وکړ او څومره یې چې د علم کچه پورته تلله نو همغومره به

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنجیدګی او تفکر خواته تلو هغه به په شپه ورځ کی اکثره یوازی وو او په خلوت کی به خوشال وو که څه هم د ځوانی په مرحله یې قدم ایښی وو لیکن د عامو ځوانانو غوندی یې جوش او ولوله نه وه بس یوازی د غور و فکر او مراقبی یو جنون ورسره وو ، د هغه ددغه یوازیتوب له امله د هغه پلار ډیر ورته پریشان وو نو له وزیرانو سره یې مشوره وکړه او له خپلی وریری یشودها سره یې د سیدهارت واده وکړ. له وادة وروسته خو د سیدهارت ظاهري ژوند سم تیریده لیکن ددغه خاموشی شاته یو طوفان راپورته شو چی لامل یې د سیدهارت ګوتم څه مشاهدات وو.

د تاریخي او بودیزم د روایاتو مطابق یوه ورځ هغه باغونو ته د تفریح لپاره ووت او په لاره یې یو ضعیف العمر شخص ولید چی د څیری پوستکی یی وچ او له ګونځو ډک وو چی پورته کیده به نو د کوپی ملا او کمزوری له وجی به نشو پورته کیدلی. بیا بیا یې د پورته کیدو هڅه کوله خو بیرته به په خپله امسا تکیه شو ، کومه بله ورځ یې یو بیمار شخص ولیده چی د مرض په وجه ډیر په تکلیف وو او زګیروي یې کول ، همداسی یوه ورځ یط یو مړی ولید چی خلکو د تدفین لپاره روان کړی وو او خپلو خپلوانو یې ماتم کاوو ، هغه یو فقیر هم ولید چی زیړ لباس یی اغوستی وو او په ظاهره هیڅ هم ورسره نه وو لیکن ډیر پرسکون او مطمئن مالومیده. ددی فقیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیره روحانیت ، خوشالي او اطمینان چی ګوتم ولید نو حیران شو او کلک عزم یی وکړ چی د حقیقي خوشالئ ، سکون او قلبي اطمینان د حاصلولو لپاره به درویش کیږي او د دغه معرفت د حصول لپاره هغه یوه مهمه فیصله وکړه چی خپل محل به پریږدي او د ریاضت لپاره به ځنګل ته ځي.

له واده لس کاله وروسته د ګوتم بد یو ځوی هم شوی وو چی راهل نومیده یوه شپه چی په محل کی جشن وو نو د بودا د حق د لټون تنده بلکل تر اخیري حده رسیدلی وه او ټول عیشونه راحتونه او محلونه یې پریښودل. ځوان بودا د شپی په وخت له کوره ووت .

بودا له کوره تر وتلو وروسته د هندوستان له مختلفو فیلسوفانو نه تعلیم وکړ خو د هغه تنده پری ماته نشوه بلاخره په ګرځیدو ګرځیدو کی د ختیځ هندوستان یو ځنګل ته ورسید هلته یې څو کسه تارک الدنیا کسان ولیدل او دی هم ورسره په مراقبه کی مصروف شو دی خلکو سره یې دومره سخت ریاضت او مشقت وکړ چی د هغه ښکلی جسم یوازی د هډوکو ډانچه پاتی شوه ، ترشپږ کاله دغسی ریاضت وروسته هغه هیڅ هم ترلاسه نکړل ، خو چی خپل جسم ته به یې کتل نو دا نتیجه یې ترلاسه کړه چی اعتدال پرېښودل او جسم ته تکلیف ورکول بی فایدی عمل دی او دی سره نجات

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشي حاصلېدلی هغه ته په تجربی سره دا ثابته شوی وه چی جسماني ریاضتونه او وږی اوسیدل یی له دی چی بدن ته تکلیف ورکړي بله هیڅ فایده هم نه لري له دی وروسته هغه د بنارس یو آشرم ته لاړ ، بودایان وایي چی دغلته د خدای له اړخه بودا ته د خوب په ذریعه داسی اشاره ورکړی شوه چی هم وجود ته تر حده ډیر تکلیف ورکول او هم ډیر د دنیا په چارو کی ننوتل دواړه غلط دي بلکی صحیح لاره د اعتدال او میانه روئ ده د شپږو کاله وخت نه پس هغه په یخو اوبو غسل وکړ او د یو شپانه د نجلۍ له شیدو نه جوړ شوي کیر ( پیرني) باندی یې خپل ریاضت مات کړ ، ماښام یې بیا ځلی د مراقبی هڅه وکړه خو له ځان سره یې عهد وکړ چی دا ځل مراقبه که دده په مرګ هم منجر شي لیکن تر حقیقت موندلو پوری به له مراقبی ونه ووځي او له دی هوډ سره د یو پیپل خواته د ونو په یوه څوکی کیناست خپل ټول خیالات یې په یوه نکته باندی متمرکز کړل او په غوروفکر کی ډوب شو.

په ۲۹ مه ورځ بودا معرفت حاصل کړ او همدغه ځای وو چی هغه له سیدهارت نه بودهـ یا بودا شو ، بدهـ په اصل کی سانسکریت لفظ دی چی معنی یی ده عالم پوه او هوښیار بیدا عارف او روښانفکره وغیره... اوس هم بودایان دغه ځای ته (بدهـ ګیا) وایي. دا وخت د بودا عمر ۳۵ کاله وو کوم څه یې چی ترلاسه کړل هغه یې علم بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او روښنايي يې بولي. بودا وايي : کله چې زه هلته له پاک نيت محنت او سمی ارادی سره کيناستم نو جهالت ختم شو او علم راوتوکېد ، تياره ختمه شوه او روښنايي ظاهره شوه .

له دی وروسته بودا په بنارس کی د آسي پتن خواته چې اوسنی نوم يې سرناتهـ دی روان شو هلته چې ورسېد نو پينځه ملنګانو ته يې خپله لومړی خطبه وويله چې دوئ يې آپديش بولي دا خطبه د بودايانو په مذهب کی ډير زيات اهميت لري ، چې ابتدايي کلمات يې داسی دي: ای ملنګانو ، دوه شيانو ته مه ځئ يو دا چې د عيش و عشرت ژوند اختيار کړئ ځکه دا ډيره د حقارت او ذلت زندګي ده ، دوهم دا چې هيڅکله خپل ژوند ته عذاب مه ورکوئ ځکه چې ډېر تکليف ورکول بی معنی خبره ده ددغه دواړو لارو ترمنځ يوه منځګړی لار اختيار کړئ چې د نجات او بصيرت لاره ده ، دا لاره د نيکی عقيدی ، نيک نيت ، نيک فعل ، نيکی ګتی ، نيک کوشش ، سکون او ريښتينولی لاره ده .

له هغی وروسته بودا خلکو ته د نصيحت کولو لپاره کرځېدل شروع کړل په اميرانو به د هغه د خبرو تاثير زيات وو د هغه وخت بادشاه ميرمنی پلار او بچيو يې د بودا دغه نوی دين قبول کړ خلک به له لری لری علاقو ورته راتلل او دده تعليماتو ته به يې غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیوه ، زیات به داسی وو چی هغوئ به دنیا خوشی کړه او چیلی به یې کولی خو بودا به تږلو ته د دنیا پریښودلو خبره نه کوله ، دنیا پریښودل د همغوئ لپاړه وو چا چی غوښتل ژوړ سوچ وکړي او خلکو ته وعظ و نصیحت وکړي ، عامو خلکو ته به یې دا ویل چی بدئ پریږدئ او ښه کاړونه کوئ همدا دړته کافي ده.

بودا مذهب اوس له دوه نیم زړه کاله نه هم زیات شو ، بودایي مذهب چی چیرته هم تللی دی هلته د هغه ځای عقاید پکی ګډ شوي دي بیا د بودا مذهب د چیلو چیلو (دوهمه دړیمه او څلوړمه طبقه مشرانو) هم پکی ډیری نوړی خبری زیاتی کړی دغسی د بودا په اصل تعلیماتو کی مشکل پیدا شو خو بیا هم د بودا خپل کوم تعلیمات چی دي هغه دادي : بدهـ د بناړس په وینا کی وویل چی مه له حده زیات د عیش او د ژوند په مزو کی پریوځئ او مه هم ځان و جسم په تکلیف کی اچوئ د منځ لاړه ونیسئ ، په شهوت غصی او جهالت قابو حاصله کړئ ، دا داسی بدئ دي چی نه یوازی انسان ته تکلیف ړسوي بلکی په داسی جال کی یې ګیروي چی نجات ته نه ړسیږي.

داسی هم ویل کیږي چی د بودا مذهب له خدایه انکاړ دی ، که داسی وي نو ډیره د تعجب خبره ده ، بودایي مذهب د آسیا په ډیرو هیوادونو لکه هندوستان ، تبت ، برهما - برما ، سیلون ، هند ، چین ، جاپان او حتی په برازیل او ځینی جزیرو کی خپوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زردشتي مذهب

له زردشت نه مخکې په ایران کې کوم خاص مذهب رایج نه وو بلکې دلته د مظاهرپرستۍ او مشرکانه مذاهبو مختلف صورتونه موجود ول ، دلته له منځنۍ آسیا نه راغلې قوم آریا اباد وو چې په مشرکانه دین یې عقیده لرله ، د حیواناتو ، لمر ، سپوږمۍ ، اور ، اوبو ، سیارو ، نیا و نیکونو او د قبایلي دیوتاګانو لمانځل عام رواج ول.

د زردشت د اوسیدو کره نېټه خو نه ده مالومه لیکن تاریخپوهان وایي چې هغه له میلاده شپږ پیړۍ مخکې ژوند کاوو ، د روایاتو له مخې هغه په آذربایجان کې پیدا شوی وو د هغه د کوچنیوالي حالات د زرتشتیزم په مقدسو کتابونو کې ذکر شوي نه دي خو تر مونږ پورې چې کوم مالومات رارسیدلي دي هغه دادي چې هغه مختلف فنون زده کړي وو خو اوس یې رمه څروله لیکن زړه یې د خلکو د خدمت لورې ته مایل وو ، هغه په ځوانۍ کې له خپل پلرني دین نه ستړی وو او پوره مطمئن نه وو او د انسانانو متعلق په څه مسایلو یې غور و فکر کاوو خو د خپلو سوالونو هیڅ ځواب یې ترلاسه کړی نه وو. د شل کالو په عمر په یو غره کې څیله (چیله) شو یوه موده وروسته ورته اسماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

معراج نصیب شو او هغه مقدس کلمات ورته الهام شول کوم چې د هغه د تعلیماتو د کتاب (ګاتا) بنیاد وو. ګاتا هغه مقدس نظمونه دي چې زردشت (زرتشت) ته منسوبیږي .

له الهي وحی وروسته زردشت د پیغمبرانه کوششونو شروع وکړه او د کایناتو د خیر وشر کشمکش یې د خپل دعوت خاصه موضوع جوړه کړه. تر لس کاله مسلسل کوششونو وروسته هم هغه ته کومه خاص کامیابي ترلاسه نشوه ، چون له هغی وروسته زردشت د بلخ بادشاه ګستاشپ (۵۰۰ – ۶۰۰ ق م) ته خپل پیغام ورووړ ، د بادشاه په دربار کی علماوو له زردشت سره مناظره وکړه چې پکی زردشت له خپل مذهب نه په سمه توګه دفاع وکړه او د هغوئ د هغه وخت مروج مذهب یې هم غلط ورته ثابت کړ ، نو همغه وو چی بادشاه د زردشت مذهب قبول کړ او له دی وروسته زردشتیزم په تیزئ سره خپور شو ، سره له دی چی په ایران کی ډیر مشکلات ورته مخکی وو خو بیا هم د هغه مذهب د ایران په لویه برخه خپور شو ، په دغه سلسله کی د توران د سلطنت او ایران ترمنځ جنګ شروع شو او یو تورانی چی کله موقع وموندله نو زردشت یې شهید کړ (دا اصطلاح د یو لوی مذهب د باني لپاره د احترام په توګه کارول شوی ده)، دغه وخت کی د هغه عمر تقریباً ۷۷ کاله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردشت له وفاته وروسته د هغه د مذهب حالت څنګه وو په دی اړه تاریخي تسلسل څو ځایه قطع شوی دی خو د زردشت مذهب د ایران له ختیځ نه تر جنوب پوری ډیر په تیزئ خپور شو او د ایران وجود په هغه وخت کی له سیاسي او تهذیبي اړخه هم ډیر اعتبار او تاثیر درلود، د لته وو چی مذهبي فرقی (مغ) هم دا مذهب قبول کړ مغانو په ایران کی هغومره لوړ حیثیت درلود څومره چی په هند کی د برهمنانو وو ، کله چی د زردشت دین د مغانو لاسته ورغی نو هغوئ خپل قدیمي عقاید هم ورسره یوځای کړل او خپور یې کړ او دغسی د مغانو عقاید هم د زردشتیزم برخه وګرځیدله.

د ایران د ستر سلطنت (هخامنشي - ۳۳۰-۵۵۰ ق م) وارث بادشاه هم د زردشتیزم پیروان وو ، که څه هم د زردشتیزم په تعلیماتو کی د توحید تصور او د کثرت پرستی رد په روښانه ټکو کی موندل کیږي خو هغه کتابات چی د هخامنشیانو له دوری نه ترلاسه شوي دي پکی د اور تعظیم او د دیوتاګانو حمدوثنا په لویه پیمانه موندل کیږي. داسی معلومیږي چی د زردشت د توحید واضح تصور د ایراني قبایلي عقایدو په مخکی تر ډیره پوری تینګ نه شو بلخصوص د هخامنشیانو د دوری په وروستیو کی د زردشت په اصل تعلیماتو کی د ایران عوامي ارزښتونه او د قدیمو مذاهبو تصورات ښه پریمانه ننوتلي وو ، د زردشت مقدس کتاب اوستا چی اوس د زردشتیزم ترجماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي هم قديمي منظوماتو برعکس د ديوتاګانو له تذکرو نه ډک دی. قرباني ، مقدس مشروب (سومرس) او نور رسومات هم د زردشت له اصلي مذهب سره فرق لري . د هخامنشيانو دوره په ۳۳۰ ق م کی د سکندراعظم په لاس ختمه شوه او په ايران د يوناني حاکمانو واک شروع شو سکندراعظم د هغه وخت ستره کتابخانه (پرسپوليس) هم تبا کړی وه چيرته چی د زردشت مقدس کتابونه په کتبي توګه محفوظ ايښي وو ، له دی وروسته يوه اوږده موده ايرانيان د يونانيانو تر تسلط لاندی ول چی پکی ايرانی کلتور د يونان له کلتوره سخت متأثره شو . له دی وروسته د زردشت د تاريخ يوه لويه حصه نامعلومه پاتی شوه وروسته چی کله حالات معلوم شول نو د زردشت په دين کی د ځو داسی يوناني ديوتاګانو تصورات هم موندل کيدل چی پخوا نه ول ، په ۲٤۷ ق م کی لومړي آشکان د يوناني سلطنت خاتمه وکړه او د پارتيانو سلطنت يې قايم کړ د هغوئ مذهب هم زردشتيزم وو داسی ګمان کيږي چی هغوئ به هم د خپلی خوښی ډير څه پکی شامل کړي وي خو دا يقيني ده چی ددغه سلطنت د وروستي وخت بادشاه ولاش د مذهبي مقدس کتاب (اوستا) د بيا ترتيب حکم کړی وو خو په تاريخ کی ددغه اوستا هيڅ مالومات نشته. په ۲۲٤ ميلادي کی دا سلطنت هم له منځه لاړ او له هغه وروسته ساساني حکومت هم د زردشتيزم د ترقی لپاره ځينی مهم اقدامات وکړل د زردشتيزم مقدس کتاب چی په ځو برخو کی رواياتاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجود وو بيا يې راوخيستل او اوستا يې ترې ترتيب کړ ، د ټولنيزو چارو د تنظيم لپاره يې د مذهبي مشرانو يو نيټورک هم قايم کړ چې پکې تر ټولو خلکو ته نږدې طبقه مغ وه چې مذهبي رسومات ادا کول ، فتوی صادرول ، خلکو ته اصلاحي مشورې ورکول او د داخلي جنګ جګړو حل کول يې دنده وه . د عبادت لپاره آتشکدې (اورخونې) ورغول شوې چې مشر ته به يې مغان مغ اعزازي نوم اخيستل کيده ، هرې ولسوالۍ ته يو مشر مقرر شوی وو چې موبد به يې ورته وايه او د ټولو موبدانو مشر ته به يې موبدان موبد وايه ، دی مشر به د مذهبي امورو مکمل صلاحيت درلود . په دې دور کې زرتشتيت د ايران رسمي دين وګرځول شو چې ورسره په ايران کې يو ستر تهذيب راپورته شو دا تهذيب په هيڅ وجه د روم هندوستان او چين له تهذيبونو کم نه وو.

د زردشتيزم دا ډول سلسله د شاپور تر دورې پورې روانه وه خو له هغې وروسته په دغه مذهب باندې د ثنويت فکري مکتب غالب شو او هغه مقدس کتابونه چې د علماوو او حافظانو په ذهن کې په پهلوي ژبه محفوظ پروت وو په داسې ډول بيا ځلې ترتيب شو چې د ثنويت تاثير پرې څرګند وو له ثنويت نه مراد د خير اوشر دوه خدايان لمانځل دي چې يو ته به يې آهورامزا او بل ته به يې اهريمن وايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شپږمه میلادي پیړۍ کې د اسلام ظهور شوی وو دی دور کې د خسروپرویز ۵۹۰ – ۶۲۸ م اقتدار ختم شوی وو له هغې وروسته ایران د ځو مسلمانو فاتحینو له ټکر سره مخ شو چې بلاخره ایران شکست وخوړ او د مسلمانانو تر نګرانی لاندی راغی خو له اسلام وروسته په ایران کې د زردشتیزم ځراغ مړ شو او له کم اقلیت پرته د ایرانیانو یوی لویی برخی ته اسلام وروړل شو. د ۹۰۰م شاوخوا کی کم و توم زردشت پیروان له ایران نه هندوستان ته کډه شول چی هلته د ځینی مخصوصو شرایطو لاندی ګجرات کی د اوسیدو اجازه ورکړی شوه ، دلته هم دی خلکو ته فارسي یا پارسي ویل کیږي دلته دغه زردشتیانو ډیر کار وکړ او خپل مقدس کتابونه یې ګجراتي ژبی ته ترجمه کړل او د فقی د علم یو لوی دفتر یې تیار کړ په اوولسمه پیړۍ کی چی کله اروپایانو په هندوستان قبضه وکړه نو ورسره فارسیانو له اروپا سره تجارتي رابطی ټینګی کړی او ډیر ژر پارسیان د ټولنیزه توګه مستحکم شول دا وخت د یوی شمیرنی له مخی په ګجرات کی د پارسیانو تعداد یولک دیرش زره ښودل شوی دی.

ایرانیان او د هند غټه طبقه دواړه آریایان دي ددوئ ډیر پخوانی مذهب اصل کی یو وو ، د ویدونو او اوستا ډیری خبری خپلو کی سره یو دي کوم چی ډیر پخواني دیوتاګان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ارباب الانواع) دي هغه هم یو دي خو په دوه بېلابېلو ممالکو کې د اوسېدو په وجه ژبه او لهجه هم بدله شوه او دغسې په نوم پېژندلو کې یو شان سره رانغلل.

دوه نیم زره کاله مخکې په ایران کې یو کس پیدا شو چې نوم یې زرتشت یا زردشت وو هغه یو نوی مذهب جوړ کړ او یا خو یې په همغه پخواني مذهب کې ترمیم وکړ، هغه دا وویل چې په ما دوه روحونه یا دوه طاقتونه ظاهر شول چې غبرګولي دي خو یو په عمل او خبرو کې ډیر زیات بد او بل ډېر زیات ښه دی. د عقلمندو خلکو کار به دا وي چې هغوئ به نیکي خوښه کړي او د ناپوهه خلکو کار به بدي خوښول وي.

د ډېرې نیکۍ کار والا طاقت نوم یې هرمزد کېښود او د بدۍ د طاقت والا نوم یې اهرمن. او وېې ویل چې د هرمزد عبادت وکړئ او د پراخوالي کوشش یې وکړئ خلک وړته راوبولئ، ایمانداري، په ژوند کې پاکي، په خبرو کې ریښتینولي، کرکیله کول، د څاروېو د نسل خیال ساتل، سپي او غوایي سره نرمي کول، د مړو عزت کول دا د زردشتي دین غټې نیکۍ وې.

د زردشتیانو چې کومې ګرجاوې وې هغې ته آتشکدې وایي هلته د مقدس اور پرستش کیږي، مذهبي مشر یې د ورځې پینځه ځله آتشکدې ته ځي او په مقدس اور باندې خوشبویي پاشي، د هر زردشتي په کور کې هم اور وي او د هغې لمانځنه کوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت د کتاب (اوستا) یوه حصه به هره ورځ تلاوت کوي او په واده کولو يې ډير زيات تاکيد کړی دی.

لکه چې ومو ويل د زردشت اصل تعليمات چې هرڅه وي خو د ايران په دغه لرغوني مذهب کې هم ډيری خبری ورګډی شوي دي چې اوس يې په اصل شکل پيژندګلوي ډيره مشکله ده چې کوم د زردشت ده او کومه پخوانۍ حصه ده . د هغوئ د بعضی خدايانو نومونه دادي: ميترا ، سروش ، رشنو. په جنت او جهنم هم عقيده لري او خپل مړي په يو خلاص ميدان کی بږدي چې تپوسان يې وخوري دوئ دغه ځای ته دخمه وايي.

که څه هم زردشتي دين ډير پخوانی دی خو د پيروانانو شمير يې کم دی ، اکثره يې په ايران ، پاکستان او هندوستان کی اوسي ، خو د ايران يزد ښار يې مرکز ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کنفیوشي مذهب

چین د نړۍ ستر هیواد دی چې د کورنیو پخوانی تعداد یې شپېته کروړه وو ، چینایان دعوه لري چې ددوئ تهذیب د نړۍ لرغونی تهذیب دی ، په چین کی به نور پخواني مذاهب هم وو خو کوم مذهب ته چې چینایانو لرغونی وایي او تراوسه چلیږي هغه کنفیوشي مذهب دی.

ددی مذهب په اړه دین پیژندونکو دا سوال راپورته کړی دی چې آیا د کنفیوشش عقیده په ریښتیا هم دین ګڼلی شو او که یوازی یو اصلاحي تحریک ورته ووایو نو ځکه خو ځینی حضرات مذهب ورته وایي او ځینی نور یې اخلاقي فلسفه بولي.

په کوم دور کی چې مهاویر او ګوتم بدهـ په هندوستان کی اخلاقي تعلیمات خپرول نو په چین کی یو ستر مصلح کنفیوشش پیدا شو ، کنفیوشش یو ډیر ستر فلسفي حکیم او عالم تیر شوی دی چې د چین په لو ولایت کی پیدا شوی دی ددغه ولایت اوسنی نوم شایتونګ دی د هغه کورنی نوم کنفوزی وو ، د دری کالو به وو چې پلار یې وفات شو او د هغه مور یې تربیت په غاړه واخیست د وخت په تیریدو سره کنفیوشش د هغه وخت مروج علم لکه شاعري تاریخ موسیقي ښکار نښه ویشتل او نورو کی مهارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کړ په ځوانۍ کی هغه په مختلفو حکومتي څوکیو هم پاتی شو. په نولس کلنۍ کی یې واده وکړ چی یو ځوی یې هم پیدا شو.

د فکر او تحلیل په دی سلسله کی د هغه ملاقات له یو بل ستر مذهبي مشر او فلسفي (لاوزی) سره وشو څوک چی د ټاویزم باني وو .

کنفیوشش یوه مدرسه جوړه کړه چی خلکو ته به یې پکی د مختلفو موضوعاتو زدکړه ورکوله د هغه درس و تدریس دومره حده پوری مقبول شو چی حکومتي مشران به یې هم په مجالسو کی اشتراک ته راتلل او دغسی یی د ژوند یوه لویه برخه په لو ولایت کی تیره شوه ، له هغی وروسته کنفیوشش قاضي مقرر شو د تاریخي لاسوندونو له مخی هغه خپله دغه دروند مسئولیت دومره په امانت ترسره کاوو چی د هغه تر حکم لاندی سیمه د امن او انصاف یوه نمونه ګرځېدلی وه او جرایم یی ختم کړل خو د وظیفی په مهال یې هم درس و تدریس جاري وو او ډیر خلک یې د شاګردۍ په دایره کی راغلي وو لیکن څنګه چی د هر چا یو دشمن وي دغسی د کنفیوشش بدبینانو هم بادشاه د ځان ملګری کړ او کنفیوشش یې له ملکه تبعید کړ. وفات یې په ۷۲ کلنۍ کی وشو او د کوفو په سیمه کی دفن کړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کنفیوشش له وفات وروسته د هغه نظریات په عامو خلکو کی دومره مشهور شول چی هغه يې یو قومي او بیا مذهبي اتل کړ له مړینی وروسته يې په ټول چین کی ماتم اعلان شو سره له دی چی کنفیوشش کوم مذهبي نظر نه وو وړاندی کړی خو بیا هم د هغه کوم کتابونه چی په مذهبي رسوماتو او تاریخ مبني وو هغو ته مذهبي حیثیت حاصل شو ، او د چین لرغونی مشرکانه مذهب هم د کنفیوششیزم یوه برخه جوړه شوه.

د کنفیوششیزم په تاریخ کی یو مذهبي عالم مینشیس ډیر د اهمیت وړ دی هغه د کنفیوشش تعلیمات د وخت له تقاضاوو سره مطابق ترتیب کړل او پکی يې اخلاقي او سیاسي امورو باندی زور راووړ چی پکی ددغه مذهب رسوماتو او رواجونو ظاهري رنګ تقریباً ختم شو ، مینشیس د کنفیوشش د مذهب ترقی لپاره په ټول چین کی سفرونه وکړل چی په وجه يې مذهب ډیره ترقي وکړه .

د کنفیوشش له مرګه دوه نیم سوه کاله وروسته بادشاه (قین شي هوانګ ۲٤۷ - ۲۲۱ ق م) د چین په ډیرو پاچاهیو قبضه وکړه دا بادشاه د کنفیوششیزم خلاف وو ، هغه د کنفیوشش او د مینشیس ټول مذهبي او تعلیمي کتابونه وسوځل او ددی مذهب عالمان يې قتل کړل خو د بادشاه له مرګه وروسته هغه کتابونه بیا له سره ترتیب شول او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپریدو لپاره یې کار وشو . اوس وخت په چین جاپان کوریا او ویتنام کې ددغه مذهب تقریباً شپږ میلیونه پیروان اوسیږي.

د چین د ملوک الطوایفي ټولو پاچاهیو په مشرۍ کې یو شهنشاه وو چې د (چو) خاندان پورې یې اړه لرله ، له میلاده اته سوه کاله مخکې چو خاندان په چین کې غټ طاقت لرلو او د چین په ټولو وړو پاچاهانو یې حکم چلېده ، د کنفیوشش په زمانه کې دغه خاندان کمزوری شو او ددې قابل نه وو چې واړه ریاستونه تر فشار لاندې راولي او له خپلمنځي نښتو یې راوګرځوي ، کنفیوشش د دغه سیاسي اړودوړ او ددې په وجه د چینایانو په ژوند باندې د تاثیراتو له امله درې غټ پروګرامونه جوړ کړل.

لومړی دا چې له شهنشاه سره چې کوم طاقت دی دا له کومه پیدا کیږي ؟؟؟ د کنفیوشش په اند دا د خدای په ورکړه سره رامنځته کیږي.

دوهم کوم ریاست څنګه معلوم کړی شي چې دا سم او صحیح ریاست دی او دعوه یې دروغ نه ده ؟؟؟ نو ددې حل یې دا وښود چې کوم ریاست شهنشاه د ریاست په توګه قبول کړي هغه سم دی. خو ددې لپاره اړینه ده چې شهنشاه طاقتور وي چې خبره یې ټول ومني نو کنفیوشش وویل چې د چو خاندان شهنشاه دی د ټولو بادشاهانو بادشاه هم وګڼلی شي او له ټولو مشر پیر ولي او مرشد هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم د چین په ټولنیز ژوند ښتو او وړوکلوی ژوند کی ډېر فرق و کړبړ وو نو کنفیوشش خلکو ته وړاندیز وکړ چی خدای ومنلی شي او د شهنشاه اطاعت دی وکړی شي د موږ پلاړ له اړخه چی څنګه بچي ته په ړیښتینولی دړس وړکول کیږي دغسی دی د بادشاهانو تربیت هم وي او دغسی دی په هغوئ کی هم ښه عادتونه نیکیانی قابلیت او لیاقت پیدا کړل شي.

کنفیوشش دا غټ کاړ وکړو چی په خپلو شاګردانو کی یې ځینو ته وظیفه وسپاړله چی د کنفیوشش او مینشش خبری ولیکي ، د مینشش اصول او تعلیمات په چین کی ډېر لوستل کیږي.

له میلاده ۲۰٦ نه تر ۲۲۰ کاله وړاندی یعنی هغه وخت چی په چین کی د هین خاندان د شهنشاهی سلسله وه پینځه کتابونه ولیکل شول کوم چی په چین کی تر ټولو پخواني او لوی کتابونه بلل کیږي ، د تبدیلیانو کتاب - ړي چنګ ، د شعروشاعری کتاب - شي چنګ ، د تاړیخ کتاب - شوچنګ ، د مذهبي ړسوماتو کتاب - پي چنګ ، او د پسرلي او خزان کتاب - چین چو.

دا کتابونه څه شی دي او د کنفیوشش ټول مذهب څه شی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ټولی خبری چی له کنفیوشش نه مخکی مشرانو ویلی وی او هغه چی خپله کنفیوشش د دین او دنیاوي کاړونو د ړغولو باړه کی ویلی وی ددغه خبرو له امله د چینایانو په ژوند کی سمي صفاي او امن پیدا شوی وو.

د کنفیوشش مذهب د عقل او ړأی مذهب دی ، د خلکو د ټولنیز ضروړت مطابق پکی ادلون بدلون ړاتلی شي لکه څنګه چی سن یټ سن په کال ۱۹۱۲ع کی بادشاهي ختمه کړه او جمهوړي نظام یې قایم کړ نو کنفیوشي مذهب د شهنشاه په ځای ړیاست او دولت په خپلو کتابونو کی ذکر کړ ، سن یټ سن یې د چینایي قوم پلاړ او چینایي عوام یې ړعیت وباله.

کنفیوشي مذهب قایم هم پاتی شو او په هغه کی د ټاوي او بودایي مذهبونو عبادت او سوچ هم شامل شو ، په کنفیوشي مذهب کی عبادات او ړسومات د قوم په ښیګڼه او د ټولنیز نظام په بهتری پوړی تړلي دي په دی کی د خدای تصوړ او عقیده ډېره مبهمه غوندی ده خو د پلاړ او نیکه لمانځنه یوخاص مقام پکی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاو مذهب

له چين سره د متعلق مذاهبو له منځه يو هم تاويزم مذهب دى چې باني يې يو ستر فيلسوف لاوزى دى ، لاوزى له ميلاده شپږ پيړۍ مخکې اوسېده خو د هغه د ژوندکې په حالاتو تاريخ په مکمله توګه خاموش دى ، د کنفيوشش مذهبي روايات وايي چې د هغه ملاقات له کنفيوشش سره هم شوى وو . د بودايزم او کنفيوششزم غوندې ددې مذهب هم اخلاقي او فلسفيانه نظام وو خو په دې کې د هغوئ برعکس د واحد خداى تصور لږ څه زيات واضح دى ، خو وروسته وروسته به تاويزم کې د ديوتاګانو تصور هم شامل شو خو په تاويزم د کنفيوشش او بودايت اثر ځرګند مالوميږي .

په دې مذهب کې تاو يو خاص اهميت لري چې معنى يې لاره ده ، خو ددې لفظ باره کې ډير مفاهيم بيانيږي مثلاً (خداى ، آفاقي عقل ، بى علته وجود ، فطرت ، د سلامتى لار ، د وينا طريقه ، اصول او قانون وغيره وغيره . . . خو لږ وسيع مفهوم يې هغه روح دى چې د کايناتو په هر شي کې موجود دى ، چې وروته التايميت رياليتي هم ويل کيږي . د تاو د تعليماتو مطابق انسان ته ترټولو غوره لار داده چې له فطرت سره همغږى شي او ژوند وکړي ، دا خلک د رهبانيت قايل نه دي بلکې يوه ساده او ښه زندګي تيرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د مذهب بنيادي اصل دی ، ابتداء کی د تاو پيروانانو يوازی په ديويانو يقين درلود خو وروسته پکی د لاوزی او نورو مذهبي مشرانو پرستش هم شروع شو . له دی پرته د تاو پيروان د فطرت د مظاهرو پرستش هم کوي ، ددی مذهب مقدس علامت ته (يينګ ينګ) وايي چی د فطرت د دوه متضادو جنسونو (نر او ښځې) نمايندګي کوي.

د تاويزم مقدس کتابونه تاوتيچنګ ، زيينګ زي ، لاييزي او تاوژنګ دي دا کتابونه د مختلفو زمانو مختلفو مصنفينو ته منسوب دي .لومړني دوه ياد شوي کتابونه ددی مذهب بنياد بلل کيږي .

له ميلاده ٤٠٠ کاله مخکی له نورو ملکونو نه چين ته دا خبره راغله چی لمر سپوږمی ستوري او آسمان له ځمکی نه ګيرچاپيره ګرځي ، ځمکه او د قطب ستوری په خپل ځای ولاړ دي ، د چين خلکو په دی ډير سوچ وکړو او اخر يې وويل چی يو کېدل او يو نه کېدل دا دوه بيل اصول دي ، دا دواړه د اور لرګي ، ختی او کاني په ذريعه خپل کار کوي او ددوئ له کار کولو نه ټولو موسمونه او د خلکو زغلل پرځل منځته راځي.

د لمر سپوږمی ستورو او اسمانونو د تاوېدلو چلښت ته هغوئ د تاو نوم ورکړ او تاو ته يې د خدايئ درجه ورکړه ، د تاو مذهب پيروانو دومره ليکل وکړل چی د کتابونو ډيري يې جوړ کړل اول خو يې په لمر سپوږمی ستورو آسمان ځمکه انسان روح

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدایښت او مرګ فکر وکړ او ولیکل او بیا يې په سیاست مذهب دواګانو وغیره ډیر کتابونه ولیکل په چین کی د ټاو مذهب ښه وچلېد خو بیا په مذهب کی د ملاوټ له امله د جادو ټوټکو او منترونو زور شو او اوس داسی دی چی یوازی د پیریانو او دیوانو په لمانځنه ولاړ دی بس.

اوس وخت کی ددی مذهب پیروان اکثره هغه خلک دي چی په بودایزم او کنفیوششیزم ایمان لري او له دغه دوه مذاهبو سره سره دا مذهب هم له ځان سره اخیستلی ځي ، ددی مذهب پیروان د یوی شمیرنی له مخی دری میلیونه ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شنتو مذهب

شنتو یو چینایي لفظ دی چې معنا یې ده ( د دیوتا ګانو لار) . د هندویزم غوندی دا مذهب هم په کوم خاص باني پوری تړلی نه دی خو ټول په دی عقیده دي چې دا مذهب په اصل کی د کیدونکی مذهبي ترقی نتیجه ده .

شنتو مذهب صرف په جاپان کی دی او له دوه زره کاله نه راروان دی ، ددوئ د لمانځلو شی کامي دی او کامي څه شی دی په دی د شنتو مذهب عالمان هم نه پوهیږي خو وایي چې کامي ویني ، ډیر غټ ، وېرونکي ، چې نفع او نقصان دواړه رسولی شي لکه اور هوا لمر سپوږمۍ سمندر غرونه ونی.

د فیوجي غر هم کامي دی او یا کامي پکی دی د جاپان چې څومره شهنشایان ول هغوئ ټول کامیان دي او یا کامي پکی دی، په شنتو مذهب کی خدای او خدایي طاقت یوه خبره ده هیڅ فرق پکی نشته ، په چا کی چې کامي ده هغه په خپله کامي دی او څوک چې کامي دی هغه دیوتا او دیوي ده لیکن شهنشاه په جاپان کی د لمر ځوی دی او دیوتا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوتا نر هم وي او ښځه هم او د هغوئ اولاد هم وي ، تر دوهمی نړیوالی جګړی پوری شنتو د جاپان رسمي دین وو او د ټولو ګرجاوو خرڅه یې حکومت ورکوله دی مذهب یو دا غټ کار وکړ چی ټول جاپانیان یې شهنشاه ته وفادار کړل.

د شنتویزم باره کی دا خبره کیږي چی ددی مذهب روایت له قبل التاریخ زمانی نه راروان دی خو ځینی مؤرخین وایي چی شنتویزم د جاپان په لرغوني تهذیب کی نه وو بلکی دا له جنوبي کوریا نه جاپان ته انتقال شوی دی په هر صورت دغه قبایلي روایت اوس د مذهب شکل اختیار کړی او په جاپان کی د ملي تمدن حیثیت لري.

په پینځمه عیسوي پیړۍ کی چی کله بودایزم جاپان ته راغی نو دواړو مذاهبو په خپل منځ کی داسی مفاهمت وکړ چی د (شنتوبد) په نامه یوه بیله مذهبي فرقه رامنځته شوه چی په یو وخت ددواړو مذاهبو پیروان وو ، له دی پرته کنفیوشزم او تاویزم هم په دغه مذهب ژور اثرات پریښي دي ، په اتلسمه پیړۍ کی مشهور جاپاني عالم موتونوري ناګا شنتویزم د نورو مذاهبو له اثراتو نه جدا کړ او د خالص مذهب په شکل وړاندی کولو کوشش یې وکړ ، دا په اصل کی په مذهب کی د مذهبي احیاء یو تحریک وو او داسی اصلاحات یې پکی وکړل چی په وجه یې له نورو مذاهبو نه ممتاز شکل غوره کړ . له هغی وروسته په حکومتي سطحه ددی مذهب د پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوششونه وشول حتی چی په ۱۸۹۰ م کی د جاپان حکومت د دی مذهب تاریخ او بنیادي عقاید په تعلیمي نصاب کی شامل کړل ،د بودایزم له پیاړغونی وروسته دا مذهب یو څه د زوال ښکار شو خو لا هم ددی مذهب اندازتاً څه کم دری میلیونه پیروان شته خو ورسره ورسره دوئ د بودایزم پیروان هم دي . په جاپان کی شپږ اتیا فیصده خلک په مختلطه توګه د بودایزم او شنتویزم دواړو پیروان دي. په دی مذهب کی هیڅ مقدس کتاب نشته خو په جاپان کی دوه کتابونو ته قومي او کلتوري اهمیت ورکول کیږي چی یو یې (کوجوکي) او بل یې (شوکونیهونګي) دی چی په تاریخ ، نظمونو د دیوتاګانو په کیسو او د مذهبي رسوماتو په بیان مشتمل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يهودي مذهب

په تاريخي لحاظ يهوديت د نړۍ له سترو مذاهبو نه يو ده چې نسبت يې حضرت موسی عليه السلام ته کيږي. په نړۍ کې دا وخت درې کتابي مذاهب دي (يهوديت ، عيسايت او اسلام) يعنې دا هغه مذاهب دي چې پيروان يې دعوه کوي چې خدای ددوئ د پيغمبر په واسطه خپل کتاب پرې نازل کړی دی. په دوئ کې يهودي مذهب تر ټولو لومړی دی.

دا وخت د يهودانو د اکثريت ملک اسراييل دی ، تر دوه زره درېيم کاله پورې د يهودانو شمير څوارلس ميليونه ښودل شوی وو ددوئ د اعتقاد له مخې يهوديت هغه مذهب دی چې د خدای په وحدانيت او د يهودانو په عظمت او بهترۍ باندې يقين درکول پکې ضروري دي دا دوه هغه بنيادونه دي چې د يهودي مذهب بنياد پرې ولاړ دی. يهوديت له دې امله هم د اهميت وړ دی چې د هغوئ مسلسل او مرتب تاريخ محفوظ دی خو نړيوال مذهب ځکه نشو ورته ويلی چې د نړۍ په هر کوټ کې ددوئ د پيروانو د شتون سربيره يې يوازې له اسراييلو پرته بل چا د پيروۍ زړه نه دی کړی يوه وجه پکې دا هم ده چې له ډيرو مشکلو مراحلو به تيريږي او بيا به يهوديت دايرې ته ننوځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یهودانو تاریخ ډیر اوږد او په زړه پورې دی ، مصر لوري ته له هجرت کولو نه د اروپا تر هولوکاسټ پورې د هغوئ تاریخ له بلا انتشار او مظالمو نه ډک دی خو په دغه ظلمونو او تنګدستیو کې هم دغه قوم خپل کورني یووالی ، صلبي نسبت او نسلي نظریات په حیرانوونکي توګه محفوظ ساتلي دي ، ددوئ د تاریخ شروع له حضرت ابراهیم علیه السلام نه کیږي چې ځینې مؤرخین یې د ژوند زمانه له میلاده ۲۰٦۷ او ځینې ۲۰۲٤ او ۱۹۵۵ پورې ښيي خو په دې اړه تراوسه پورې کوټلی سند موجود نه دی.

له حضرت عیسی ع نه اته سوه کاله مخکې حضرت موسی ع تیر شوی وو د هغه د امت خلکو ته یهود ویل کیږي ، د حضرت موسی ع دوه زامن وو حضرت اسحق او حضرت ابراهیم ع ، اسحاق ع په شام کې وو او ابراهیم ع خپل ځوی اسماعیل له خپلې میرمنې سره هغه ځای ته ورسول چیرته چې نن ورځ مکه ده ، د اسحاق ع ځوی حضرت یعقوب ع وو د هغه یو نوم اسرائیل هم وو نو ځکه خو د حضرت یعقوب ع اولادې ته بني اسرائیل وایي. د یعقوب ځوی یوسف په مصر کې د مال او خزانې وزیر شو او د همغه په زمانه کې د هغه پلار او اولادونه مصر ته راغلل او همدلته اباد شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څو سوه کاله کی د بني اسرائیلو تعداد ډېر لوړ شو د مصر له بادشاه (چی د فرعونانو له سلسلی نه وو) سره دا ویره پیدا شوه چی چیرته داسی نشي چی بني اسرائیل دده په تخت قبضه وکړي ددی لپاره هغه حکم وکړ چی په بني اسرائیلو کی څوک هم نارینه بچی پیدا کیږي هغه به قتلولی شي او دغسی د قتل سلسله روانه شوه، په دی زمانه کی حضرت موسی پیدا شو که څه هم دی د بنی اسرائیلو له نسل نه وو خو په داسی صورت پیدا شو چی بچ کړی شو.

کله چی موسی ځوان شو نو ډیر طاقتور وو د فرعون د قوم یو کس په کوم چا زورزیاتی کړی وو نو حضرت موسی یی مخه ونیوله په دی کی د دواړو ترمنځ جنګ جګړه وشوه او د موسی په ګوزار سره هغه کس مړ شو، نو له دی ویری چی ګرفتار نشي نو موسی له مصر نه ووت او یو داسی ځای ته ورسید چی هلته یو بزرګ اوسېده هغه له حضرت موسی سره د خپلی لور نکاح وکړه او څه موده وروسته حضرت موسی له خپلی میرمنی سره د مصر په اراده راروان شو.

شپه شوه او یخني وه موسی ته چیرته اور ښکاره شو نو خپلی میرمنی ته یی وویل چی زه د ګرمیدلو لپاره ځم چی اور راوړم او که له اور سره څوک موجود وو نو د لاری ادرس به هم تری مالوم کړم او د اور لوري ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته يې يو غيبي اواز واورېد او د الله ښکاري يې وليده ، له الله سره يې خبرې وکړې او هم دغه ځاى کې يې هغه خپل پيغمبر مقرر کړ او حکم يې ورته وکړ چې فرعون ته ورشه پوى يې کړه چې مسلمان شي او بني اسرائيل بيرته خپل پلرني ټاټوبي فلسطين ته راوله.

فرعون په لاره نشو او موسى بني اسرائيل له ځان سره واخيستل چې تعداد يې مؤرخين شپږ لاکه ښيي د فلسطين په لوري روان شو خو فرعون بيا هم ورپسې شو او په درياب کې غرق شو. حضرت موسى چې د سينا دښتې ته ورسيد نو بيا يې کوه طور ته د تلو اراده وکړه او هلته يې څلويښت ورځې تيرې کړې او له تورات سره بيرته راغى. اوس تورات د حضرت موسى کتاب دى او يهودان دعوه کوي چې هغوئ همدا تورات مني خو دا هم ورسره وايي چې د وخت د ضروریاتو مطابق د يهوديت عالمانو په تورات کې څه اضافه هم کړې ده.

يهوديان خداى هم مني او وايي چې يو دى له حضرت عيسى نه مخکې ټول پيغمبران هم مني فرښتې قيامت له مرګه پس ژوند او حساب کتاب جنت دوزخ دا ټولې خبرې مني، کله چې د مني موسم شروع کيږي نو ددوئ نوى کال شروع شي او د لومړۍ مياشتې تر لومړيو لسو ورځو پورې خپل کال لمانځي. دغه ورځې دوئ د خداى د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کولو لپاره ډيري برکتناکي بولي او لسمه ورځ د حساب ورځ مني په دی ورځ د خلکو عملونه د خدای په وړاندی پیش کیږی او چی څه فيصله يې وکړه هغه وکړي او له ځان سره يې محفوظ کيږدي د حشر په ورځ به ددی فیصلو عمل مخی ته راځي چی د چا په عمل څه فيصله شوی ده. هم په لسمه ورځ یهودیان د خپلو ګناهونو اعتراف کوي او توبه تری باسي ، په اونۍ کی د هفتی ورځ يهوديانو ته هغسی متبرکه ده څنګه چی مسلمانانو ته د جمعی ورځ ده او عيسويانو ته د يکشنبی.

يهوديان خپل قوم په ټوله نړۍ عزتمن قوم ګڼي او دا دعوه کوي چی خدای ته تر بل هرچا دوئ ډير خوښ دي د عیسی ع د راتګ انتظار دي او وايي چی کله راشي نو د هغه د عدل بادشاهۍ په وخت به زمونږ درجه په ټولو کی اوچته وي لکه چی مسلمانان وايي که څه هم يهودي مذهب يوازی د بني اسرائيلو لپاره وو او تبليغي مذهب نه دی خو بيا هم يهودان د خپل دين ډير کم تبليغ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عيسايي مذهب

د حضرت عيسى پيدايښت يوه معجزه وه ځکه چې هغه له پلاره بغير پيدا شوى وو او خبرى يې کړى وى د خداى د لويوالي خبره يې کړى وه او ځان ته يې د خداى بنده او پيغمبر خطاب کړى وو او دا دعوه يې هم کړى وه چې د حضرت موسى په دين کې چې کوم کوږوالى پيدا شوى دى هغه به سموي د هغه د کتاب نوم انجيل وو.

حضرت عيسى ع ډيره کمه موده ژوندى وو د هغه د ژوند د حالاتو باره کې چا نه دي ليکلي انجيل د هغه د حواريونو له اړخه سينه په سينه نورو ته منتقل شوى او ډير وروسته وليکلى شو او په دغه موده کې چې هره غلطي شوى ده هغه غلطي پاتې شوى.

کله چې د عيسايت تبليغيان اروپا ته ورسيدل نو په دى فکر چې عيسايت ژر ترژره خپور شي نو د هغه سيمو د خلکو ډيرى خبرى يې په عيسايت کې ګډى کړى کومې چې د هغه خلکو لپاره مقدسى وى او نه يې شوى پريښودى ، او دغسى عيسايت دومره حده پورى خپور شو چې نن ورځ په نړۍ کې د مذاهبو له لحاظ غټ تعداد د همدى دين د پيروانو دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عیسایت اصل عقیده خو دا وه چې الله یو دی او یوازی دی یعنی پ توحید یې عقیده لرله خو د عیسی د عجیب پیدایش په وجه پکی ډیری خبری ور ګډی شوی ، عیسایان اوس الله یو هم مني او دری هم ، یعنی پلار زوی او روح القدس دری بیلابیل هم دي او یو هم، چی دا ډیره مبهمه خبره پاتی شوی ده خو یو عام عیسایي په اسانه سره وییلی شي چی حضرت عیسی د خدای زوی وو.

د مذهب او اخلاقو په انسایکلوپیډیا کی عیسایي مذهب دا رنګه تعریف شوی دی: یو اخلاقي تاریخي مذهب دی چی په ټوله نړۍ کی خپور شوی دی توحید مني نجات ورکوونکی دی او د الله او بنده ترمنځ عیسی مسیح د غټو غټو کارونو لپاره واسطه بولي،،،

په عیسویت کی ډیری فرقی جوړی شوي دي خو په دوئ کی دری تر ټولو غټې فرقی دي - رومن کاتولیک ، ایستیرن ارتوډکسي او پروټستنټ. ددی دریوارو په عقیدو او طریقو کی لوی اختلاف موجود دی او غټ بحثونه پکی دي خو دلته یې مونږ په لنډه لنډه بیانوو:

په رومن کاتولیک مذهب کی چی ترټولو پخوانی دی پاپ د تاریخي کلیسا ظاهري پیشوا دی او حضرت عیسی ع ددغه کلیسا باطني او روحاني پیشوا دی. پاپ د حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی وارث بلل کیږي او د عیسویانو دا عقیده ده چی پاپ ته د حضرت عیسی روحاني سرپرستي او هدایت حاصل دی نو په دی وجه د پاپ او د هغه د مشورتي کونسل ټولی فیصلی هم د حضرت عیسی فیصله بلل کیږي او په هغی عمل د ټول کاتولیک مذهب په پیروانانو واجب دی په کاتولیک مذهب کی د کتاب او شریعت فکر نشي کیدای بلکی د پاپ فیصله هرڅه دي.

د ایسټیرن آرتوډکسي عقیده داده چی د پاپ او کلیسا په مقابل کی صحیح عبادت ، په ګناه صحیح اقرار او په مذهبي رسوماتو او د حضرت عیسی ع د مشرۍ نه شکیدونکی سلسله اصل مذهب ګني، د حضرت عیسی په دوهم ځل پیدایښت عقیده باندی ددوئ ټول مذهبي معاملات او دارومدار ولاړ دی.

په پروټسټنټ کی هم دوه فرقی دي ، د لوتهر پیروان او د کالون پیروان ، لوتهر په شپاړسمه عیسوي پیړۍ کی د عیسوي مذهب د اصلاح کار وکړ ، هغه د پاپ او د هغه فیصلی یوی خواته کېښودی او د انجیل د تعلیماتو د مخکیوالي کوشش یې وکړ ، هغه عیسایت هغه حالت ته راوړل غوښتل په کوم کی په پیل کی وو ، هغه په خلکو کی دا فکر عام کړ چی د کلیسا اصلي وظیفه داده چی خلکو ته د انجیل اصلي تعلیمات ورسوي او هغه مذهبي رسومات ادا کړی لکه بپتسمه وغیره ... د لوتهر په فکر چی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب د عمل صورت دادی چی پاکه زندګي اختیار کړی شي او د دنیا کارونه د مذهب د هدایت مطابق ترسره شي ، هغه د عباداتو او داخلي پاکیزګی قایل وو او د کلیسا د نظام او انتظام هم قایل وو ، خو په سیاست کی یې د مذهب دخالت نه غوښت.

د کالون رایه بیا دا وه چی یوازی د انجیل تعلیمات دی خواره کړی شي د بپتسمه وغیره رسوماتو په ادا کولو سره کلیسا خپل مقصد ته نه رسیږي ، بلکی کلیسا ته د عیسویانو د دنیوي ژوندانه برابرولو او ترقی ورکولو لپاره هم څه ناڅه پکار دي هغه د خلکو سیاسي ټولنیزه او کلتوري زندګي هم له کلیسا نه بیلول نه غوښتل.

کالون د عیسویت په دین یو ډیر غټ کتاب هم لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مانویت

یو لرغونی مذهب دی چی په عراق کی راوتوکیدل د نورو مذاهبو غوندی ددی مذهب باني هم (مانی) وو چی په ۲۱۷ مه هجري پیړۍ کی په عراق کی پیدا شو د هغه حالات د مسلمانو مؤرخینو له قوله مونږ ته راسپدلي دي ، ددغه مؤرخینو په وینا هغه یو فلسفي وو او د خپل یو داسی مذهب بنیاد یې کیښود چی له زرتشتیت یهودیت او عیسویت نه اخیستل شوی وو، په هغه وخت کی زرتشتیت د ایران رسمي مذهب وو خو کله چی وکتل شول د ماني مذهب د زرتشتیت خلاف یو چیلنج جوړیدو نو د ایران د هغه وخت بادشاه بهرام اول چی د زردشتیت پیروان وو مانی قتل کړ او د هغه په پیروانو یې ډیر ظلمونه وکړل له دی وروسته د مانیزم پیروانانو د منځنۍ آسیا او چین خواته هجرت وکړ خو ځینی مؤرخینو لیکلي دي چی د ایران بل بادشاه ( دوهم شاپور - ۳۰۹-۳۷۹) مانیزم قبول کړی وو خو په دی اړه کوم ثابت دلیل نشته خو یوازی دا چی هغه د ماني له پیروانو سره نیک برخورد کاوو ، دغه وخت کی مانیزم په چین ، لویدیځه آسیا ، شمالي افریقا ، جنوبي اروپا ، فرانسه او اسپانیا کی خپور شوی وو. خو په اوومه پیړۍ کی ددی مذهب اثر ختمیدل شروع شول او بلاخره تقریباً ددی مذهب وجود اوس باقي نه دی پاتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانویت کی د سامي او غیرسامي دواړو قسمه مذاهبو پیغمبرانو ، دیوتاګانو او سپیڅلو مناسکو منل شته خو لږه موده وروسته بیا دا مذهب د تحریفاتو ښکار شوی وو. ماني تقریباً اووه یا اته کتابونه لیکلي وو چې پکی دا مذهب یو الهامي مذهب منل کیدو ، دا کتابونه په سریاني ژبه لیکل شوي وو ، یو بل کتاب یې هم وو چې ارژنګ نومیده او په تصاویرو مشتمل وو خو دا مهال ددی ټولو کتابونو له څو ټکړو پرته بل هیڅ هم نه دي پاتی شوي ، مانیزم د ثنویت لوري ته مایل وو خو پکی د زرتشتي خدای تصور هم رایج وو . که څه هم مانویت نن ورځ معدوم بلل کیږي لیکن په نړۍ کی په متفرق ډول یوه کمه شمیر ابادي اوس هم ددی دین پیروان شته.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**